NHS
24

# NHS 24

## این ایچ ایس 24

## په سم ځای کې د سمې پاملرنې ترلاسه کولو کې ستاسو سره مرسته



کریس (Chris)
زنګ اداره کونکې

اینسلي (Ainsley) او میډو (Meadow)
ناروغان

nhs24.scot

## په سم ځای کې سمه پاملرنه ترلاسه کړئ

### این ایچ ایس 24 (NHS 24)

این ایچ ایس خبرتیا (NHS inform) کې د ډیرو عام شرایطو لپاره د ځانی-ملاتړ لارښودونه شامل دي:
NHSinform.scot/self-help-guides

که تاسو فکر کوئ چې تاسو د حادثې او اضطراری کیفیت ځانګې (A&E) ته اړتیا لرئ، مګر دا ژوند-ګواښونکی نه وي یا په هماغه ورځ طبي پاملرنه او دا چې تاسو د عمومی متخصص (GP) د کلینک د بیا خلاصیدو انتظار نشئ کولې، نو این ایچ ایس 24 (NHS 24) ته په 111 زنګ ووهئ.

### درمل جوړونکی/ درملتون

- زکام
- د چاود زخمونه
- د ستوني درد
- اسهال یا قبض
- بدهضمی
- دردونه
- مرسته که چیرې ستاسو تکراري نسخه خلاصه شي

### رواني هوساینه

این ایچ ایس 24 (NHS) ته زنګ ووهئ، 24 ساعته/7 ورځې، د کال 365 ورځې

**د سکون ځای (Breathing Space):** 0800 83 85 87
کاری ورځې: دوشنبه – زیارت، ماښام 6 بجو نه تر شپې 2 بجې پورې
د اونې پایې کې: د جمعې ماښام 6 بجو نه تر دوشنبې د سهار 6 بجو پورې

### د غاښونو ډاکټر

- د غاښ درد
- د خولې پړسوب
- ستاسو د خولې زخم
- د یوریو (د غاښونو جرړې) درد یا وینه بهیدل
- د شفاهي حفظ الصحې په اړه مشوره

### د سترګو متخصص

- سره یا نوجنه سترګه
- د سترګې یا د دې شاو خواه درد
- تت یا کم شوې لید
- په لید کې پرکا او ګلان

### د عمومی متخصص (GP) کلینک

تاسو سره په رواني او فزیکي دواړو روغتیایي مسئلو کې مرستې لپاره کلینکي مسلکیان، په شمول د ډاکټرانو، نرسانو او ځینې وختونه درمل جوړونکي او فزیوتراپیستان هم.

### د معمولي زخمونو/ ټپونو ځانګه

- زخمونه او معمولي د سوزیدنې زخمونه
- د رګونو/اندامونو اوړیدل او فشارونه
- د هډوکو شکمنه ماتیدنه

### د حادثې او اضطراری کیفیت ځانګه (A&E) یا 999

- د زړه احتمالی حمله یا بندیدنه
- د تنفس ستونزې
- شدیده وینه بهیدنه

nhs24.scot

این ایچ ایس 24 (NHS 24) د این ایچ ایس (NHS) سکاټلینډ برخه ده، په سم ځای کې، د سمې پاملرنې ترلاسه کولو کې، مرسته او ملاتړ کوي.

BREATHING SPACE
NHS inform
111
Care Information Scotland
Living Life
QUIT YOUR WAY with our support

## مونږ این ایچ ایس 24 (NHS 24) یو – په سکاټلینډ کې د تلیفوني او ډیجیټل روغتیا او پاملرنې د خدماتو ملي چمتو کونکی. دا زمونږ خدماتو ته یو ګټور لارښود دی، چې په سم ځای کې، سمې پاملرنې ته لاسرسي کې تاسو سره مرسته کوي.

### این ایچ ایس خبرتیا (NHS inform)

که تاسو د خپلې روغتیا په اړه پوښتنه لرئ یا تاسو د نښو په اړه اندېښمن یاست او ډاډه نه یاست چې باید څه وکړئ، نو این ایچ ایس خبرتیا (NHS inform) د پیل لپاره ښه ځای دی. **www.nhsinform.scot** ته ولاړ شئ او تاسو به د خپل ملاتړ په اړه د معلوماتو یوه پراخه لړۍ او د ځاني-مرستې لارښودونه ومومئ. دا اکثرا د نښو درک کولو او د هغو د اداره کولو د څرنګوالي لپاره ترټولو ګړندی لار ده. که تاسو بیا هم احساس کوئ چې خپلې روغتیایي مسلې کې مرستې ته اړتیا لرئ، نو تاسو 111 ته زنګ وهلی شئ.

### 111

زمونږ 111 خدمت د روغتیا او پاملرنې اړتیاو لپاره 24/7 (24 ساعته او 7 ورځې) ټیلفوني ملاتړ چمتو کوي. پدې کې شامل دي:

- د کاری ساعتونو څخه بهر پاملرنه، کله چې ستاسو د عمومی متخصص (GP) یا د غاښونو د ډاکټر کلینک بند وي
- عاجله پاملرنه، که تاسو فکر کوئ چې تاسو د حادثې او اضطراری کیفیت څانګې (A&E) ته اړتیا لرئ مګر ژوند ګواښونکی نه وي
- د رواني روغتیا ملاتړ

**که تاسو فکر کوئ چې د یو چا ژوند په خطر کې دی او تاسو امبولانس ته اړتیا لرئ، 999 ته زنګ ووهئ.**

په ژوند-ګواښونکي بیړني حالتونو کې احتمالی د زړه حمله یا بندیدنه، د تنفس شدیدې ستونزې، شدیده وینه بهیدنه یا شدید ټپي کیدنه شامل دي.

### د بل چا لپاره زنګ وهل؟

تاسو د بل چا د استازی په حیث این ایچ ایس 24 (NHS 24) ته زنګ وهلی شئ - د مثال په توګه، که تاسو د ماشوم، د بوډا خپلوان یا د ګاونډي ساتونکې/پاملرونکی یاست.




### که تاسو د عاجله مسئلې، خو چې ژوند-ګواښونکي نه وي، لپاره 111 ته زنګ ووهئ، نو تاسو څه تمه کولی شئ؟

لمړنی شی چې تاسو به یې واورئ، ستاسو لپاره سم انتخاب غوره کولو لپاره د اختیارونو سره یو پیغام دی. په دقت سره یې واورئ چې ستاسو اړتیاو لپاره ستاسو زنګ سم سړي ته ورسیږي.

### له تاسو څخه به وغوښتل شي چې د خپل ځان یا هغه شخص چې تاسو یې استازیتوب کوئ، په اړه لاندې توضیحات وړاندې کړئ:

- نوم
- د زیږیدلو نیټه
- کور ادرس یا د هغه ځای ادرس چې تاسو ترینه زنګ وهئ
- د ټیلفون هغه شمیره چې تاسو زنګ وهلې دی او یوه داسې شمیره چې مونږ پرې تاسو ته بیرته زنګ وهلی شو، که ورته اړتیا ولرو
- د عمومی متخصص (GP) او هغه د کلینک نوم

بیا به تاسو څخه د زنګ وهلو د سبب په اړه ځینې پوښتنې وشي. دا د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره دی چې تاسو تر ټولو غوره کس/مسلکی ته وسپارل شئ. که تاسو له یو کلینکی مسلکي سره خبرې کولو ته اړتیا ولرئ، د تلیفون اداره کوونکی به ستاسو ټیلفون/زنګ انتقال کړي.

### کله چې د این ایچ ایس 24 (NHS 24) شمیره مصروفه وي

د شمیرې په مصروف کیفیت کې، به مونږ تاسو ته بیرته زنګ ووهو. دا په دې غرض چې مونږ لمړی د جدي او عاجله مسئلو په اړه مرسته وکړی شو. تاسو ته به د هغه وخت نشاندهي اوکړی شي چې مونږ به پرې تاسو ته بیرته زنګ وهو.

### زمونږ تر ټولو مصروفه وختونه دي:

- د اوني په کاری ورځو کې د ماښام د 6 بجو نه د شپې تر 8 بجو
- د شنبې په ورځ د سهار د 9 بجو نه تر غرمې پورې

په یاد ولرئ، که تاسو لاهم اندېښمن یاست یا که ستاسو علامات/نښې په خرابیدو وي نو تاسو مونږ ته هر وخت زنګ وهلی شئ.

